❖❖❖

# د دولتونو او حکومتونو پېژندنه

# (د افغانستان اسلامي امارت د پېژندنې په اړتيا باندې په ټينګار سره)

شيخ عبدالحکيم شرعي*

***لنډيز***

*پېژندنه هغه مفهوم دی چې د حاکميت سره ډېر نږدې تړاو لري او د دولت او حکومت پېژندنه يکې شامله ده. دولت او حکومت په عمل کې هغه وخت سياسي او نړيوال وجود پيدا کوي چې د نورو دولتونو له خوا په رسميت وپېژندل شي او دا پېژندل د دې لپاره دي چې نوی دولت او حکومت په نړيواله کچه له حقونو او مکلفيتونو څخه برخمن شي. د دولت په رسميت پېژندنه په نړيوال ستېج کې د يو نوي شخصيت د پېژندنې په معنی ده چې د خاورې، نفوس، حکومت او حاکميت خاوند وي، خو د حکومت په رسميت پېژندل هغه ته ويل کېږي چې دولت له پخوا موجود و، خو په هر دليل يې حکومت او يا سياسي نظام سقوط کړی، نوی حکومت سياسي واک ترلاسه کړی او د دې نوي حکومت په رسميت پېژندلو ته اړتيا ده. اوس مهال په افغانستان کې سياسي واک د اسلامي امارت په لاس کې دی د افغانستان خاوره د هغه تر حاکميت لاندې ده او د يو اغېزمن او ستر ځواک په توګه د هېواد د چارو کنټرول په لاس کې لري، نو اړينه ده چې په رسميت وپېژندل شي.*

**کليدي کلېمې:** رسميت پېژندنه، ډي جيوري، ډي فيکټو، اسلامي امارت.

---

* د عدليې وزارت سرپرست

**پیلیزه**

د بین‌المللي حقوقو پربنسټ دا یو منل شوی اصل دی چې خپلواک هېوادونه د مساوي حاکمیت حق لري. او په خپلو چارو کې آزاد او خپلواک دي. له همدې امله هر هېواد ددې حق لري چې د بین‌المللي ټولنې په ځانګړې توګه د ګاونډیو هېوادونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي. دلته دا مهمه ده چې د رسمیت پېژندنې موضوع په هر اړخیزه توګه وڅېړل شي.

د دولتونو او حکومتونو د رسمیت پیژندنې موضوع د بین‌المللي حقوقو له مهمو او بنسټیزو مسئلو څخه ده. په نړیواله کچه د مشروعیت د ترلاسه کولو لپاره نوي دولتونه او حکومتونه دې ته اړتیا لري چې د نړیوالې ټولنې له خوا په رسمیت وپېژندل شي. دا په دې معنی چې په رسمیت پیژندنې سره دولت په نړیوالو اړیکو کې حقوق او دندې لري.

دا هم د یادونې وړ ده چې د پېژندنې د ماهیت په اړه په نړیوال قانون کې دوه بېلابېلې نظریې شتون لري. یوه دا چې پېژندنه نوي دولت ته قانوني شخصیت ورکوي، او دوه یمه نظریه دا ده چې په رسمیت پیژندل د قانوني شخصیت ورکول او د نوي دولت رامنځته کول نه دي. بلکې، دا یو پخوانی موجود حقیقت تاییدوي. او پاتې شو قانوني شخصیت یې نو هغه له مخکې څخه موجود وي. د یادونې وړ ده چې د رسمیت پیژندنې موضوع  په نړیواله کچه تر ډېره حده پورې د سیاسي جوړ جاړې  پر بنسټ څرخیږي. په دې معنی چې د رسمیت پېژندنې د اعلانولو او نه اعلانولو پر مهال دولتونه له سیاسي تعامل او تګلارې څخه کار اخلي او د ګټې او تاوان پر اساس پرېکړه کوي چې کوم هېواد او حکومت په رسمیت وپېژني او د کوم له رسمیت پېژندنې څخه ډډه وکړي. د رسمیت پېژندنې په صورت کې به یې ګټه او تاوان څه وي او د نه رسمیت پېژندنې په صورت کې به یې ګټه او تاوان څه وي. له همدې امله د رسمیت پېژندنې د لاسته راوړنې لپاره سیاسي اړیکې ډېرې مهمې

دي. په دې لیکنه کې غواړو وڅېړو چې څنګه دولتونه او حکومتونه په رسمیت پېژندل کېږي او د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو اړتیا په ډاګه کړو.

**لومړی بحث: کلیات او مفاهیم**

په دې بحث کې د اوسنۍ لیکنې اړوند بنسټیز مفهومونه تر بحث لاندې نیول شوي دي:

**الف: د دولت مفهوم**

دولتونه د بین‌الملل حقوقو اصلي موضوع ده او دا د انسانانو یوې ډلې ته اشاره کوي چې په یوې ټاکلې خاورې کې د حکومت تر څانګړي، خپلواک او اغېزمن حاکمیت لاندې وي او د نورو مماثلو بنسټونو سره رسمي اړیکې جوړې کړي یا کړای شي( والاس و ارتگا، ۱۳۹۲: ۱۰۸). په بل عبارت، دولت یو جغرافیایي واحد دی چې داخلي نظم او بهرنۍ خپلواکي لري او د ملي موخو د ترلاسه کولو لپاره له ورته واحدونو سره متقابلې اړیکې ټینګوي ( بارز، ۱۳۸۵: ۱۲۲).

په نړیواله کچه د مونټې ویډیو معاهده لومړنی او مهم نړیوال سند دی چې د دولت د حقونو او دندو په اړه ترتیب او تصویب شوی دی. ددغې معاهدې په لومړۍ ماده کې داسې ویل شوي دي: «دولت د بین‌المللي حقوقو د یوه شخص په توګه باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱- دایمي نفوس ۲- معینه ځمکه ۳- حکومت ٤- له نورو دولتونو سره د نړیوالو اړیکو د ټینګولو واک» له همدې امله د یوه خپلواک هېواد شتون د شرطونو په شتون پورې اړه لري لکه؛ د خلکو شتون، د ځمکې شتون، د خلکو د سیاسي جوړښت شتون چې په یوه ټاکلې خاوره کې مېشت وي او له بهرني کنټرول څخه تر خلاص حکومت لاندې ژوند کوي او داخلي او بهرنی حاکمیت لري(معاهده مونته ویدیو، ۱۹۳۳، ماده اول).

یا په بل عبارت؛ حکومت د خلکو هغه ډله ده چې په یوه ټاکلې خاوره کې سیاسي ټولنه جوړوي او یو لوړ ځواک په هغې باندې حاکم دی( مدنی، ۱۳۸٦: ٦۳).

**ب: د حکومت مفهوم**

حکومت د واکمنۍ معنی لري او همدارنګه د قانون پلي کولو بنسټونو په معنی کې کارول کېږي. د حکومت اساسي دنده د قوانينو وضع، د قوانينو پلي کول، د امنيت او عامه نظم تامين، د عدالت تامين، پرمختيا او ټولنيزه هوساينه او د عامه خدمتونو پلي کول دي( جمعی از نویسندگان، ۱۳۹۶: ۳٦۱).

**ج: د پېژندنې مفهوم**

پېژندنه هغه عمل دی چې له مخې يې پخواني دولتونه په يوې ټاکلې شوې سيمه کې د يوې نوې او خپلواکې سياسي ټولنې شتون تاييدوي چې د بين‌المللي حقوقو د رعايت وړ وي او په پايله کې يې د نړيوالې ټولنې د يوه غړي په توګه د هغه دولت د پېژندنې لپاره خپله اراده اعلانوي( ضيايی بيگدلی، ۱۳۹۲: ۱۹۲).

پېژندنه په لاندې دوو مواردو کې کارول کېږي:

**۱- د نوي دولت جوړول**

د بل دولت له خوا د دولت په رسميت پېژندنه يو رسمي تاييد دی چې پيژندل شوی هېواد د دولت ځانګړتياوې لري. کله چې يو نوی هېواد په نړيواله ډګر کې راڅرګند شي، نور هېوادونه بايد هغه په رسميت وپېژني او له هغه هېواد سره د اړيکو لپاره د هغه شتون تاييد کړي، او دا د دولت د پيژندنې مسئله ده.

د بين‌المللي حقوقو انسټيټيوټ د ۱۹۳٦ زېږديز کال د بروکسل په غونډه کې د دولتونو رسميت پېژندنه وڅېړله او پيژندنه يې په لاندې ډول تعريف کړه:

«پېژندنه هغه عمل دی چې پر بنسټ يې دولتونه په يوې ټاکلې سيمه کې د يوې نوې خپلواکې سياسي ټولنې شتون مني او تاييدوي، د بين‌المللي حقوقو د رعايتولو وړتيا لري، او په پايله کې، دوی خپله اراده اعلانوي چې دا دولت د نړيوالې ټولنې د يوه غړي په توګه وپېژني».

### ۲- د نوي حکومت جوړول

په ځانګړو شرایطو کې د نوي دولت په رسمیت پیژندنې سربېره د حکومت د رسمیت پېژندنې مسئله هم راپورته کېږي. دا اصل په بین‌المللي حقوقو کې پېژندل شوی چې هر دولت حق لري یو حکومت جوړ کړي او هغه حکومت په نړیوالو اړیکو کې د هغه دولت استازی ګڼل کېږي. معمولاً د حکومت په جوړښت او بڼه کې بدلون له دولت سره هېڅ تړاو نه لري ځکه دا بدلونونه د دولت پر نړیوال شخصیت اغېز نه کوي. په بل عبارت، د نوي حکومت په رسمیت پېژندل د نوي دولت له رسمیت پېژندنې سره توپیر لري، ځکه چې د "دولتونو د دوام" د اصل له مخې، د حکومت بدلون د دولت په ثبات او نړیوالتوب اغیزه نه کوي( همان، ۱۹۷).

### د: د حاکمیت مفهوم

حاکمیت د قوماندې عالي ځواک دی. کله چې ویل کېږي چې حکومت حاکم دی، دا په دې معنی ده چې تر خپلې واکمنۍ لاندې ساحه کې واک لري او بل هېڅ ځواک شتون نه لري چې له هغه سره برابر وي. دا د بل ځواک اطاعت نه کوي. په بل عبارت؛ حاکمیت د دولت ستر ځواک دی چې قانون جوړوونکی او د قانون پلي کوونکی دی او له دې څخه لوړ ځواک شتون نه لري، د دولت د حاکمیت د واک د پلي کولو ساحه پکې شامله ده په کوم کې چې دولت خپلواک دی او د نورو دولتونو د قوانینو تر څارنې لاندې نه دی( هاشمی، ۱۳۹۳: ۱۵۳).

### دوه یم بحث: د دولت د جوړښت عناصر

لکه څنګه چې مخکې د دولت په تعریف کې وویل شول، د دولت شتون د عناصرو په شتون پورې اړه لري لکه؛ ځمکه، نفوس، حاکمیت او حکومت چې د دې عناصرو له شتون پرته دولت به شتون ونه لري. دا عناصر په لاندې ډول دي:

### الف: ځمکه یا سیمه

ځمکه د دولت مادي عنصر دی او دا د خاورې، اوبو او فضا یوه برخه ده چې دولت

په کې حکومت کوي. د ځمکې پرته دولتونه هیڅ معنی نلري. د یوه دولت خاوره باید د وېش وړ نه وي، او دا مسئله په بین‌المللي حقوقو کې یو اصل دی(کک دین و دیگران، ۱۳۸۲: ٦٦۹).

**ب: نفوس یا جمعیت**

نفوس د دولت انساني عنصر دی، له نفوسو پرته دولت شتون نه لري او نفوس پخپله دولت نه جوړوي. په هر حال، د نفوسو معنی یوازې د انسانانو یوه ډله نه ده چې په ځمکه کې استوګن وي، بلکې هغه نفوس چې خلک یې د ژورو معنوي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو اړیکو له لارې له یو بل سره تړلي وي او د عمل په ډګر کې یو ملت ګڼل کیږي(همان: ٦٦۳).

**ج: حاکمیت**

د دولت دغه عنصر د مادي او معنوي قوتونو هغې ټولګې ته ویل کیږي چې په وسیله یې حاکمان د ټولنې پر وګړو خپله اراده تحمیلوي او د قانون او پرېکړو مراعاتولو ته یې اړ باسي. له حقوقي اړخه حاکمیت هغه حق دی، چې دولت یې د هېواد د وګړو، شتمنیو او منابعو په اړه د لازمې تصمیم نیونې او پلي کولو حق لري. حاکمیت د سیاسي ټولنې د آزادۍ او استقلال په معنی دی چې دولت یې استازیتوب کوي( ابوالحمد، بیتا: ۱۵۸).

د یوه هېواد د ادارې لپاره د دولت خپلواک واک ته حاکمیت ویل کیږي، چې لاندې شرطونه باید ولري:

۱- د حاکمیت د عملي کولو لپاره مادي قدرت ولري، لکه وسله وال ځواکونه، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز سازمانونه؛

۲- حاکمیت باید دایمي او منظم وي؛

۳- د کورنیو او بهرنیو چارو په اداره کولو کې خپلواک وي( علی‌بابایی، ۱۳۸۲: ۲۸٦).

**د: حکومت**

په بشري ټولنه کې ډېری ډلې لکه کورنۍ، قبیلې، شرکتونه شتون لري چې په خپلو غړو باندې واک چلوي او امر کوي. خو د دې ټولو ډلو په منځ کې حکومت تر ټولو لوړه ټولنیزه ډله ده، چې تر نورو ټولنیزو ډلو غوره دی او لامل یې دا دی چې د حکومت واک تر ټولو منظم، پیاوړی او تر ټولو لوړ ټولنیز ځواک دی، که څه هم کورنۍ، ټولنې او شرکتونه د دوی د خوښې ځانګړې ټولنیزې ډلې دي او په خپلو غړو باندې واک چلوي او په خپله ډله کې نظم رامنځته کوي، په ورته وخت کې دوی د حکومت تر څارنې لاندې دي او د دولت د قوانینو په پلي کولو مکلف دي، په داسې حال کې چې حکومت خپل واک له کومې ډلې او ټولنې نه ترلاسه کوي. په حقیقت کې حکومت تر ټولو لوړه ټولنه ده ( هاشمی، ۱۳۹۳: ٦٥).

**درېیم بحث: په بین‌المللي حقوقو کې د دولتونو د پېژندنې څرنګوالی**

د ځمکې، نفوسو، حاکمیت او حکومت د څلورو عناصرو په راغونډولو سره د یوه هېواد ذاتي شخصیت تحقق مومي، خو په نړیواله ټولنه کې هغه وخت دا شخصیت د حق او دندې خاوند ګرځي چې په رسمیت وپېژندل شي. دا پدې معنی ده چې نور هېوادونه د هغه شتون او شتون په دې وړتیا سره مني چې په نړیوال سطحه کې ژوند ته دوام ورکړي. د یوه دولت په رسمیت پېژندنه په دې معنی ده چې یاد دولت نړیوال شخصیت لري.

**الف: د دولتونو د رسمیت پېژندنې شرطونه**

پورتنیو څرګندونو ته په پام سره ویلای شو چې د دولتونو د رسمیت پېژندنې شرطونه په لاندې ډول دي:

۱- خپلواکي؛ د یوه دولت خپلواکي د نورو دولتونو له خوا د هغه د رسمیت پېژندنې لپاره اساسي شرط دی.

۲- داخلي ثبات؛ د نوي دولت د رسمیت پېژندنې لپاره د هغه داخلي ثبات هم

په پام کې نیول کېږي او په دې برخه کې د نوي دولت پیاوړتیا او پر دغه دولت د خلکو باور ستر رول لوبوي.

۳- ځانګړې سیمه؛ د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره درېیم مهم عنصر د نوي دولت تر کنټرول لاندې ځانګړې سیمه ده.

**ب: د دولتونو د پېژندنې ډولونه**

د یوه دولت په رسمیت پېژندنه کیدای شي په ښکاره او له رسمي اعلامیې سره ترسره شي، او د دولت رسمیت پېژندنه کیدای شي ضمني وي(مدنی، ۱۳۸۸: ۳۴۸). په دې اساس په بین‌المللي حقوقو کې، له معمول سره سم د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره دوه میتودونه کارول کېږي:

۱- ښکاره پېژندنه؛ دا ډول رسمیت پېژندنه په ښکاره او عامه توګه ترسره کېږي په داسې حال کې چې رسمي سند چمتو کوي لکه له ځانګړي تړون سره اعلامیه. دا ډول رسمیت پېژندنه په انفرادي یا ډله ییزه توګه ترسره کیدای شي.

۲- ضمني پېژندنه؛ دا ډول پیژندنه د سیاسي او قونسلي اړیکو او ډیپلوماتیکو اړیکو په رامنځته کولو سره په ښکاره ډول ترسره کېږي.

**څلورم بحث: په بین‌المللیحقوقو کې د حکومتونو د رسمیت پېژندنې څرنګوالی**

د دې بحث په لړ کې د حکومتونو د پېژندنې په هغو ټولو مهمو مسایلو باندې بحث کوو چې د پیژندنې شرطونه، د حکومتونو د پېژندنې ډولونه، د حکومت د پېژندنې په ډګر کې شته نظریې او د حکومت د پېژندنې اغیزې په کې شاملې دي.

**الف: د حکومتونو د پېژندنې شرطونه**

هر دولت چې جوړېږي د حکومت د جوړولو حق لري او دغه حکومت په نړیوالو اړیکو کې د هغه دولت استازی دی. د حکومتونو د پېژندنې په اړه باید وویل شي چې د حکومت د پېژندنې لپاره باید لومړی یو دولت موجود وي. له معمول سره سم، کله چې نوی تأسیس شوی هېواد په رسمیت وپېژندل شي؛ د هغه حکومت د پېژندنې

لپاره هېڅ اړتیا نشته، په دې معنی چې دولت او حکومت په یوه وخت کې په رسمیت پېژندل کېږي. خو کله چې په کوم هېواد کې انقلاب رامنځته شي او نوی حکومت د ادارې چارې په لاس کې واخلي نو د نوي حکومت په رسمیت پېژندل اړین دي(موسی زاده، ۱۳۹۵: ٦۱).

دلته دا خبره مهمه ده چې وخېړل شي او هغه دا چې کله یو حکومت په عادي او قانوني لارو واک ته ورسېږي نو د رسمیت پېژندنې موضوع په نړیوال ډګر کې مهمه نه ده. ځکه حکومت له نړیوال قانون سره سم واک ته رسېدلی دی، د نړیوال قانون پربنسټ ټول حقوق او وجیبې لري. بالعکس که یو حکومت په غیر عادي توګه واک ته ورسېږي نو بیا نړیوال د دغه حکومت په رسمیت پېژندنه کې زړه نازړه وي . په دې صورت کې د نړۍ هېوادونه بیا ارزونه کوي چې آیا نوی حکومت خپل واک ټینګولای شي او که نه؟ په نړیوال سطح کې خپل مسوولیتونه پر مخ وړلای شي او که نه؟ نوی حکومت له هېوادونو سره څرنګه تعامل کوي. او ځینې نورې مسئلې ارزوي. کله چې مثبت ځواب ورته حاصل شي نو بیا نوی حکومت د هېوادونو له خوا په رسمیت پېژندل کېږي.

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د رسمیت پېژندنې موضوع د سیاست پربنسټ څرخي. د رسمیت پېژندنې د اعلانولو او نه اعلانولو پر مهال هېوادونه له سیاسي تګلارې څخه کار اخلي او د ګټې او تاوان په پام کې نیولو سره پرېکړه کوي چې کوم هېواد او حکومت په رسمیت وپېژني او د کوم له رسمیت پېژندنې څخه ډډه وکړي. د رسمیت پېژندنې په صورت کې به یې ګټه او تاوان څه وي او د نه رسمیت پېژندنې په صورت کې به یې ګټه او تاوان څه وي په نړیوال سطح کې د حکومتونو د رسمیت پېژندنې لپاره لاندې شرطونه په پام کې نیول شوي دي:

**۱- د واکمن او یا د حکومت د اغېزمن او حقیقي ځواک رامنځته کول**

په دې معنی چې حکومت د هېواد پر اجرائیه قوې باندې عملي کنټرول لري او

باید د حکومت په اړونده سیمه کې بې له شکه واک ولري او په ټولو اړوندو سیمو کې خپل واک په مؤثره توګه وکاروي( فن ګلان، ۱۳۹۲: ۱۰۹).

**۲- د نوي حکومت ژمنتیا چې خپل نړیوال مکلفیتونه پوره کړي**

باید ډاډ ورکړل شي چې نوی حکومت د خپلو نړیوالو مکلفیتونو د پوره کولو توان لري(فن ګلان، ۱۳۹۲: ۱۱۰). د افغانستان اسلامي امارت په دې برلاسی دی چې هغه بین‌المللي ژمنې ترسره کړي چې له اسلامي شریعت او د افغانستان له ملي ګټو او فرهنګي چارو سره مغایرت ونه لري.

**ب: د حکومتونو د پېژندنې ډولونه**

په بین‌المللي حقوقو کې، له معمول سره سم د رسمیت پېژندنې لپاره دوه میتودونه کارول کېږي:

۱- ډې جیوري پېژندنه (قانوني)؛ په دې ډول رسمیت پېژندنه کې هغه حکومت په رسمیت پېژندل کېږي چې قانوني او په هر لحاظ د رسمیت پېژندنې وړ وګڼل شي.

۲- ډي فیکټو پېژندنه (عملي)؛ دا ډول پېژندنه د هغو حکومتونو په اړه ده چې قانوني شرطونه یې په شک کې وي او نوی حکومت یوازې په شکلي ډول په رسمیت پېژندل کېږي(موسی زاده، ۱۳۹۵: ٦٤).

**بحث:**

ډي فیکټو پېژندنه په هغه صورت کې تحقق مومي چې یو هېواد د نوي هېواد په اړه باور نه لري او دا پوښتنې ورته پیدا کیږي چې آیا دا هېواد له ستونزو څخه ځان باسي او که نه؟ ایا نوی هېواد یا حکومت به وکولای شي چې په ټول هېواد باندې ولکه ټینګه وساتي؟ له خلکو او اقلیتونو او ګاونډیو سره به یې تعامل څه وي؟ نو کله چې هېوادونه په دغسې حالت کې رسمي یا غیر رسمي تعامل له نوي هېواد سره کوي دې ډول رسمیت پېژندنې ته ډي فیکټو رسمیت پېژندنه وایي. دوی د وضعیت

پربنسټ رسمیت پېژندنه غوره کوي. او کله چې په پورتني وضعیت کې بدلون راشي. هېواد یا حکومت مضبوط شي او له پورتني وضعیت څخه ځان وباسي او هېوادونه په نوي هېواد یا حکومت باندې باوري شي نو بیا هېوادونه له قانون سره سم نوی هېواد یا حکومت په رسمیت پېژني. دې ډول رسمیت پیژندنې ته ډي جیوري رسمیت پېژندنه وایي. په بل عبارت که چېرته پېژندونکی هېواد د نوي هېواد یا حکومت وضعیت له هر لحاظه قانوني وګڼي نو دې صورت کې رسمیت پېژندنې ته ډي جیوري رسمیت پېژندنه وایي. له همدې امله ډي فیکټو رسمیت پېژندنه د ډي جیوري رسمیت پېژندنې پر لور لومړی ګام دی.

همداراز ډي فیکټو پېژندنه لنډمهاله رسمیت پېژندنه وي. او ډي جیوري رسمیت پېژندنه دایمي وي.له همدې امله د ډي فیکټو رسمیت پېژندنې په صورت کې هېواد خپله رسمیت پېژندنه بېرته سلبولای او فسخه کولای شي خو د ډي جیوري رسمیت پېژندنې په صورت کې هېواد خپله رسمیت پېژندنه نه شي فسخه کولای. کله چې یو هېواد د ډي جیوري په ډول په رسمیت وپېژندل شي او بیا وروسته پېژندونکی هېواد خپله رسمیت پېژندنه له نوي هېواد څخه بېرته واخلي داسې نه شي کولای.

**ج: د حکومتونو د پېژندنې په برخه کې د انګلستان تعامل**

د دایمي یا د ډي جیوري پېژندنې په اړه د انګلستان تعامل دا دی چې هغه مهال د یو دولت یا حکومت په اړه د ډي جیوري رسمیت پېژندنه اعلانېږي او هېواد یا حکومت په دایمي ډول په رسمیت پېژندل کېږي چې لاندې درې شرطونه پوره کړي:

۱- کله چې د یوه دولت یا حکومت په اړه تر معقول حده  پورې  هیله پیدا شي چې دولت یا حکومت به دایمي بڼه ولري.

۲- د خلکو اکثریت د نوي دولت یا حکومت پلوی دی.

۳- حکومت دخپلو نړیوالو مسوولیتونو او وجیبو منلوته غاړه ایښې ده(حاتم، ۱۳۹۳: ۵۵)

**د: د اکرسټ په آند د رسميت پېژندنې تفسير**

اکرسټ د نړيوال حقوق يو نامتو عالم دی، هغه وايي چې په حقيقت کې ډي فيکټو او ډي جيوري د دولت د رسميت پېژندنې ډولونه نه دي بلکې دا د حکومت د رسميت پېژندنې ډولونه دي. هغه وايي که يو حکومت په قانوني توګه واکمن شوی وي نو دې ډول رسميت پېژندنې ته ډي جيوري وايي. او دوه يم ډول يې د واکمن حکومت په رسميت پېژندنه ده له هرې لارې چې واک ته رسېدلی وي(حاتم، ۱۳۹۳: ۵۵). د اکرسټ له پورتني تفسير څخه په صراحت سره په ډاګه کېږي هر حکومت چې د هرې لارې واک ته رسېدلی وي او د هېواد په ټولې برخې باندې واکمن وي بايد په رسميت وپېژندل شي. نو لازمه ده چې نړيوال د افغانستان اسلامي امارت په رسميت وپېژني.

**د: د حکومتونو د رسميت پېژندنې آثار**

د حکومت د رسميت پېژندنې آثار په لاندې ډول دي:

۱- له آشنا هېوادونو سره د ديپلوماتيکو اړيکو د ټينګولو او د تړونونو د عقد واک.

۲- په آشنا هېواد کې د دعوې د اقامه کولو حق.

۳- د آشنا هېواد په قلمرو کې خونديتوب.

٤- د محکمو د پرېکړو او د بهرنيو دولتونو د کړنو پېژندنه.

**پنځم بحث: د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې اړتيا**

د پورتنيو موضوعګانو په پام کې نيولو سره د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې په اړه  د لاندې علمي او عملي دلايلو يادونه کولای شو:

**الف: علمي دلايل**

د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې د اړتيا لپاره لاندې علمي دلايل شتون لري:

## ۱- په حقيقي معنی د دولت شتون

لکه څنګه چې په تيرو بحثونو کې وويل شول، د دولت شتون په عناصرو پورې اړه لري لکه؛ نفوس، خاوره، حاکميت او حکومت. دا ټول عناصر د افغانستان په اسلامي امارت کې شتون لري.

## ۲-خپلواکي

د افغانستان اسلامي امارت د هېواد په دننه او هم په نړيواله کچه بشپړه خپلواکي لري او د بل هېڅ ځواک تر تسلط لاندې نه دی.

## ۳- داخلي ثبات او امنيت

د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته په هېواد کې بشپړ امنيت او ثبات تأمين شوی او د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې خاورې په هېڅ ساحه کې هېڅ ډول امنيتي ستونزه شتون نه لري.

## ٤- په قلمرو واکمني

د افغانستان ټولې سيمې او ځمکې په بشپړه توګه د اسلامي امارت تر واک لاندې دي او د هېواد په ټولو سيمو کې امارتي بنسټونه او امارتي ادارې فعالې دي.

## ٥- د بين المللي مکلفيتونو ترسره کول

د افغانستان اسلامي امارت په نړيوال سطحې کې د خپلو ټولو مکلفيتونو د ترسره کولو توان او قدرت لري او خپلو ټولو نړيوالو مکلفيتونو ته د اسلامي شريعت، ملي ګټو او ملي ارزښتونو په حدودو کې ژمن دی.

## ٦- د رسميت پېژندنې د معيارونو بشپړول

د برتانيې د تعامل په ګډون د منلو شويو بين المللی اصولو پربنسټ د افغانستان اسلامي امارت د رسميت پېژندنې شرطونه بشپړ کړي دي. ځکه چې د افغانستان په اسلامي امارت کې لاندې مواردو تحقق موندلی دی:

- په کلي توګه بشپړ باو ر شتون لري چې د افغانستان اسلامي امارت يو

دايمي حکومت دی.

- په اغېزمنه توګه سياسي واک لري او حاکميت په انحصاري ډول تمثيلوي.
- د ملت د غوڅ اکثريت له خوا منل شوی دی.

**ب: عملي دلايل**

د افغانستان د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې د اړتيا لپاره لاندې عملي دلايل شتون لري:

**۱- د بديل نشتوالی**

په اوس وخت کې د افغانستان د اسلامي امارت لپاره هېڅ بديل نشته او د افغانستان د اسلامي امارت د واک او تسلط د کمزوري کولو لپاره هېڅ داخلي ځواک شتون نه لري.

**۲- د افغانستان د اسلامي امارت ډي فيکټو پېژندنه**

په حقيقت کې همدا اوس يو شمېر هيوادونو د افغانستان له اسلامي امارت سره ديپلوماتيکي اړيکې ټينګې کړې دي. د مثال په ډول؛ چين، روسيې، ترکيې، پاکستان، ايران، قطر او هند.

له بلې خوا د افغانستان د اسلامي امارت لوړ پوړو چارواکو څو ځلې په نړيوالو کنفرانسونو کې د افغان دولت د استازو په توګه ګډون کړی او د افغان دولت په استازيتوب يې ژمنې او تړونونه لاسليک کړي دي. او تاريخ هم ثابته کړې ده چې افغانان د هېڅ بهرني هېواد تر واکمنۍ لاندې ژوند نه دی کړی او نه يې کوي او هېڅ بهرنی هېواد په افغانستان کې خپلو هيلو ته نه دی رسيدلی.

**شپږم بحث: د نړيوال سوالونو ته ځواب**

د يادونې وړ ده چې نړيوال د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې لپاره د څلورو شرطونو يادونه کوي.

۱- ټول شموله حکومت.

۲- د ښځو تعلیم.

۳- د بشر حقوق.

٤- د ښځو حقوق.

موږ د دوی د دغو شرطونو په اړه وایو څرنګه چې زموږ ټولنه اسلامي جامعه ده. موږ د شریعت پر حکمونو باندې مکلف یو. د همدغو شرعي حکمونو د نفاذ لپاره د افغانستان اسلامي امارت مجاهدینو او د افغانستان مسلمان ولس ډېرې قربانۍ ورکړې دي. شریعت چې په کومه اندازه ښځو ته د تعلیم حق او نور حقوق ورکړي دي. موږ په بشپړه توګه هغه حقوق ښځو ته ورکوو. د بلې ټولنې هغه حقوق چې له شریعت سره په ټکر کې دي په هغو باندې نه مکلف یو او نه شریعت موږ ته اجازه راکوي. او حال دا چې موږ د نړیوال قانون پربنسټ چې هر هېواد ته د مذهبي آزادۍ پوره حق حاصل دی د دې حق راکړل شوی دی چې ښځو او نورو ته د اسلام په چوکاټ کې حقوق ورکړو. او الحمد لله دا حقوق موږ ورکړي دي.

د بشر د حقوقو په اړه موږ وایو چې اسلام یو فطري دین دی. د شریعت ټول حکمونه او اصول د بشریت او د انسانیت په ګټه دي په همدې ډول د الله تعالی له خوا موږورباندې مکلف یو. هېڅ یو داسې شرعي حکم شتون نه لري چې د انسانیت او بشریت پر ضد وي. او همدغه شریعت د نړیوال قانون د ادعاء پربنسټ د نړیوال قانون اصل هم دی. موږ وایو توپیر همدومره دی چې اسلام د بشر د حقوقو او نورو حکمونو په اړه ځینې بریدونه ټاکلي دي چې د دغو حدوداتو څخه تجاوز کول د بشر او انسانیت پر ضد او په تاوان یې دي.خو په نړیوال قانون کې دغه بریدونه نشته. د دې مثال داسې کېدای شي چې یو موټر په داسې سړک روان وي چې د غرونو په منځ کې وي. او څنګ ته یې سیند بهیږي. نو د دغه سړک یوې او بلې غاړې ته حدودات نصب شوي وي. د دې له پاره چې که له دغو حدوداتو څخه تجاوز وشي نو موټر یا سیند ته پرې وځي او یا له غره سره ټکر کوي چې پای به یې دا شي چې موټر

به هم ویجاړ شي او مسافرو ته به هم دروند زیان ورسیږي. نو علماء وایي چې اسلامي قوانین د انسانیت او د فطرت پربنسټ بنا او وضع شوي دي خو حدودات لري. او که د اسلام له حدوداتو څخه تجاوز وکړي نو انسان ته نه جبرانېدونکي تاوانونه رسیږي. په همدې اساس د افغنستان اسلامي امارت له خوا هغه ټول حقوق که د ښځو حقوق دي، که د بشر حقوق دي او یا که د ښځو د تعلیم حقوق دي د اسلام په چوکاټ کې په هر ممکنه حالت کې ورکړې ته ژمن دی. خو دا په هغه صورت کې کېدلای شي چې له شرعي حدوداتو څخه پکې تېری ونه شي. دا هم د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې په اوسني حالت کې د ښځو لپاره جلا او بېل تعلیمي ادارې شتون نه لري. او مخکني حکومت هم دې موضوع ته پوره پاملرنه نه ده کړی. نو که ښځو ته د ګډ تعلیمي نظام پربنسټ اجازه ورکړل شي نو اخلاقي فساد ته زمینه برابریږي. چې شرعاً موږ د دې اجازه نه شو ورکولای. له همدې امله موږ له نړیوالو څخه غواړو چې د ښځو د تعلیم لپاره ټول هغه امکانات برابر کړي او موږ سره مرسته وکړي چې بېلې او جلا تعلیمي ادارې ورته جوړې شي.

د ټول ګډونه حکومت د شرط په اړه دا ضروري ده چې وویل شي د افغنستان اسلامي امارت له خوا جوړ شوی حکومت ټول ګډونه دی. د افغنستان له هر قوم څخه استازي د حکومت په کابینه کې شتون لري. د مخکنې جمهوري دورې د حکومتونو په شان فساد پکې نشته، بلکې د فساد څرک هم پکې نه لیدل کیږي. داسې حکومت چې د فساد څخه پاک وي او د افغانستان د ټولو قومونو او سیمو استازیتوب کوي په هره معنی ټول ګډونه حکومت دی. بناءً د نړیوالو پورتني شرائط چې په هېڅ صورت کې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې لپاره خنډ نه شي کېدای نړیوال دې پلمې نه جوړوي.

بله دا چې د نړیوال قانون پربنسټ په هېڅ یو اصل کې دا پورتني شرائط د یوه هېواد او حکومت د رسمیت پېژندنې لپاره مانع نه دي. نو نړیوال له خپل نړیوال

قانون څخه سرغړونه کوي او څېل قانون نقض کوي. او حال دا چې هر څوک د قوانینو په حاکمیت او نفاذ باندې مکلف دي. له همدې امله د نړیوالو لپاره به دا قانوني مکلفیت وي چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.

**پایله**

لکه څنګه چې په مقاله کې ویل شوي، د دولتونو په رسمیت پېژندنه د حکومتونو په رسمیت پېژندنې سره توپیر لري او د افغانستان اسلامي امارت د دولت د نه پېژندنې له ستونزې سره مخ نه دی، بلکې ځیني هېوادونه د خپلو شخصي غرضونو او سیاسي موخو او عقدو له مخې د افغانستان د اسلامي امارت د حکومت د رسمیت پېژندنې په برخه کې غیر موُجه دلیلونه مطرح او خنډونه رامنځته کوي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اسلامي امارت د افغانستان د جغرافیې په ټولو سیمو کې حاکم دی او په اغیزمنه توګه حاکمیت تمثیلوي او د افغانستان د اکثریت خلکو له خوا منل شوی. له دې امله په رېښتینې توګه او د بین المللي حقوقو د اصولو له مخې د رسمیت پېژندنې شرطونه یې پوره کړي او د نړۍ د هېوادونو له خوا باید به په رسمیت وپېژندل شي.

**منابع او ماخذونه**


1. ابو الحمد، عبدالحمید، **مباني سیاست**، جلد نخست، تهران: انتشارات توس، بیتا.
2. بارز، عابدین ، **فرهنگ علوم سیاسي**، کابل: انتشارات، میوند، سال ۱۳۸۵.
3. بیګدلی، ضیایی، **حقوق بین الملل عمومی**، تهران: انتشارات ګنج دانش، سال ۱۳۹۲.
4. جمعی از نویسنده گان، **دایرۀ المعارف حقوق عمومی**، انتشارات دانشگاه امام صادق، تهران: سال ۱۳۹٦.

5. حاتم، خالد، **عمومی نړیوال قانون**، کابل: خپروونکی، افغانستان د پراختیا او بشر دوستانه مرستو ټولنه، کال ۱۳۹۳ هـ.ش.
6. علي بابائي، غلام رضا ، **فرهنگ سياسي**، تهران: انتشارات آشیان، ۱۳۸۲.
۷. والاس، ربکا و الگا مارتین ارتگا، **حقوق بین الملل**، ترجمه: سید قاسم زمانی، تهران: نشر شهر دانش، سال ۱۳۹۲.
8. فن گلان، گرهارد، **در آمدی بر حقوق بین الملل عمومی**، جلد اول، ترجمه: سید داود آقایی، تهران: نشر میزان، سال ۱۳۹۲.
9. کک دین نگوین، پاتریک دینه و آلن پله، **حقوق بین الملل عمومی**، جلد اول، ترجمۀ: حسن حبیبی، تهران: انتشارات اطلاعات، سال ۱۳۸۲.
10. مدني سيد جلال الدين، **كليات حقوق اساسي**، تهران: انتشارات پایدار، سال ١٣٨٦.
11. مدنی، سید جلال الدین، **مبانی و کلیات علوم سیاسی**، جلد اول، تهران: چاپ اسلامیه، سال ۱۳۸۸.
12. موسی زاده، رضا، **بایسته های حقوق بین الملل عمومی**، تهران: انتشارات بنیاد حقوقی میزان، سال ۱۳۹۵.
13. هاشمی، محمد طاهر، **حقوق اساسی و نهادهای سیاسی**، کابل: انتشارات لاجورد، سال ۱۳۹۳.
14. **معاهده مونته ویدیو**، مصوب سال ۱۹۳۳ میلادی.